# پښتو ادب د اجتماعي څېړنو لپاره

ټولنه او اجتماع په موجوداتو کښې يو خاص ناموس دئ، چې هيڅ شی ددې څخه نه سي وتلای.

يو ژوندی جسم که انسان وي که حيوان، يا کـه کوچنی ذره بينـي ميکـروب، دا ټولـه لـه خـورا وړو کيمياوي ټوټـو څخـه جوړ سويدي، چې دا ټوټې هم د بيخـي کوچنوټـو ذراتـو څخـه مرکبـې دي. او دغه ذرې هم يو له بله د ټولني او تجاذب طبيعـي خاصـيت لري، او دغه خاصيت او يـو لـه بلـه سره نښتـون پـه دوی کښـي د ژوندانه حرکت پيدا کوي، او کوچني او لوی ژوي (حيوانات) ټولـه په دغه اجتماعي خاصـيت د ژوندانـه مجمـوعې لـري، چـې ددوی اجسام ځيني ترکيب سوي وي.

نـو لکـه د ژونـديو اجسـام چـې د ژوندانـه د مجموعـو څخـه جوړيږي، دغسي هم هر جسم او هر فرد لـه نـورو سـره نښـت او يـو ارتباط لري او دغه د اجتماع خاصيت له پوهانو لـه خـوا حتـی پـه خزندو او چينجو او حيواناتو او مرغانو او وحشي هُګـانو کښـي هـم ښوول سوئ دئ. (۱)

انسان هم ددغي طبيعي سلسـلې يـوه کـړی ده، مګـر د بشـري اجتماع بنياد پر اجتماعي نظامـاتو اينـو سـوئ دئ، او ځکـه چـې يوازي دده ژوندون مشکل دئ، نو تـل د ټـولني پـه سـيوري کښـې خپل ځان له ناوړو واقعاتو څخه ژغوري. (۲)

لکه د انساني افرادو د روحی تحقيق لپاره چي د روحياتو علم د (سايکالوجی) په نامه موجود دئ. دغسي هم د انساني ټولنو د روحياتو لپاره (اجتماعي روحيات) ډېر عميق او په زړه پوري بحثونه او څېړني لري.

طبيعي پوهان خو انسان د رنګ پر اقسامو ويشي، مګر اجتماعي فلاسفه ملتونه د روحياتو پر اصولو باندي سره بېلوي. دوی وايي چي هر ملت ځانته بېل فکري او عقلي او روحي مميزات لري، لکه ددوی جسماني خاصيتونه چي ګوښی ګوښی دي، دغسي هم ددوی عقلي خصايص او روحي مميزات سره بېل دي، او دا خاصيتونه ددوی "قوميت او مليت" ور جوړوي. (۳) او د هر ملت ثقافت او مدنيت هم له دغو عناصرو څخه تشکيل کيږي چي د علم الاجتماع په اصطلاح ئې "اجتماعي نفس يا ملي روح" بولي، او دا هغه جذبات او مشاعر او ذهنيات او تصورات او اوهام او عقايد او نفسي حالات دي، چي يو ملت له بله بېلوي. او د (فکري وحدت) تر سيوري لاندي وده کوي. (۴)

د هر ملت تاريخ ددوی د روحياتو ښکارندوی او د نفسي خصايصو هنداره ده، هره لوړتيا او برې، او هر کښته توب او پرزېده چي يو اولس ته ور پېښيږي دغه ددوی د روحياتو اغېزه او نتيجه ده. دکتور ګوستاولوبون وايي : "که انسان نابره پردي هيواد ته ولاړ سي، لومړی شی چي دی ئې هلته ويني، د هغه قوم خپل خصوصي اخلاق او روحيات او مشترک جنسي صفات دي، چي په ټولو وګړو کښي ځرګنديږي، او دا راښئي چي هغه اولس ځانته يو بېل "روح" لري، او (اجتماعی نفس) ئې هم ګوښی دئ". (۵)

د دې علمي څېړي مثال د دنيا په ټولو ملتو کښي ځرګند ليدل کيږي، په ټوله دنيا کښي يهوديان، کاغ او طماع او ګنډوی او پول پرست دي. تاتاري توکمونه په تالا او يرغل او سخت ژوند ښه



پوهيږي، د انګليسانو په ملی روح کښي متانت او کلکه اراده سته. امريکائيان ملی روح ډېر لري. هنديان روحاني ژوند او د تصوف افکار خوښوي، او دغه (خصايص بارزه) يا اخلاقي او عقلي نواميس چي د ملت (اجتماعي نفس) ځني جوړيږي، حقيقتاً د ملتو د ارتفاع يا لوېدو سبب ګرځي، او خورا درنې اغېزې هم لري. (۶)

د ټولنو د (اجتماعي نفس) په تشکيل کښي تل دوه مهم سببونه لويه برخه لري : اول وراثت دئ چي ملی خصايص له اسلافو څخه اخلافو ته را نقليږي او دا په فرنګي اصطلاح (Atavism) بولي. د ملتو نفسي صفات لکه : جسماني صفات ټينګ وي، او په وراثت سره تل د يوه پښته بل پښت ته ځي، د پلرو، نيکو آثار د هر ملت په روح کښي دايم او کلک پاتيږي، که څه هم زمانه او محيطونه د ملتو روحيات او د ژوندون لاري ور اړوي، مګر په دغه تطور کښي د ملتو روحيات او ارثي نظامات، په خورا سوکه ډول اوښتل مومي، چي مشاهد هم نه وي. (۷) د اجتماعي نفس د تشکيل دوهم مهم عامل محيط وي او هر محيط ځانته اغېزې لري. اخلاق او دودونه، جذبات، نفسيات او نور ټول د انسان مادي او معنوي خصايص او مزايا د محيط په اختلاف تغير کوي، مثلاً : هغه آريائيان چي تقريباً ۲۵۰۰ کاله پخوا د پښتونخوا څخه د هند تودو اورشوګانو ته ور شوه سول، هلته ددوی رنګونه، عادتونه او ټول خصايص هم وګرځېدل. مګر هغه ډلي چي په دغو غرو کښي پاتي سوې، خصايص ئې بېل دي، دوی خپل قومي او هيوادني ملکات او جذبات او اجتماعي نفس لري. ځکه چي ادبيات يعني ژبه ـ شعر ـ متلونه ـ قيصي او نور ادبي روايات تل د هغه ملت د اجتماعي نفس او ملي خصايصو هنداره وي، نو که څوک وغواړي چي د يوه ملت اجتماعي نفسيات او جذبات مطالعه کړي، نو ددغي څېړني لپاره په ادبياتو کښي ډېر ذخاير او مواد لاسته ورتلای سي.

**ژبه :**

ژبه د هر ملت پر عقليت له دې پلوه دلالت کوي، چې په هر عصر کښې د عقلي ذخايرو يو مهم مظهر ژبه ده، ولې چې ژبه په يوه پلا نه ده پيدا سوې او نه له اسلافو څخه اخلافو ته دغسې بشپړه راغلې ده، لومړى پلا انسانانو د خپلو ابتدائي اړتياوُ لپاره ځيني الفاظ جوړ کړل، وروسته چې نوي شيان مينده کېدل، نو نوى نوى کلمات هم ورته جوړېدل، کله چې شيان ورکېدل، نومونه ئې هم له منځه وتل نو په دې راز هره ژبه د يوه مستمر مرگ او ژوندون په مرحلو کښې سير کوي، دغسې هم د ژبې اشتقاقات او تعبيرونه د هغه ملت د لوړتيا سره سم وده کوي، مثلاً : که د فرانسوي ژبې يو د سلوکالو د مخه قاموس وکتل سي، نو به د راډيو او تلويزيون نومونه نه نسي پکښې مينده، او دا خبره ثابتوي چې فرانسويانو هغه وخت دا شيان نه پېژندل.

په دې ډول هره ژبه د هغه ملت پر عقليت ښه رڼا اچوي، او د هر مملکت د طبيعت او محيط اثر پکښې کيږي، پښتو ژبه هم ددغو ټولو مؤثراتو تر اغېزې لاندې ده، پښتانه پخوا د غرو او دښتو خلک وُ دوى له بحره ليري پاته وه، ځکه نو د بهري حيواناتو لپاره نومونه نه لري، بالعکس ددوى په ژوندانه کښې مالداري او پووندگي ډېره وه، حيات ئې په غېلو او د پسونو په محصولاتو کاوه، نو د پسو دپاره ډېر نومونه لري، هر راز پسه په اختلاف د نوع او عمر نوم لري. اوښ هم ددوى د حمل و نقل لويه ذريعه وه، نو ددې حيوان لپاره هم ډېر نومونه سته، او دا د اجتماعي او حياتي محيط اثرونه دي.

د طبيعي محيط اثر هم پر ژبې خورا ډېر دئ مثلاً : پښتانه ډېر په غرو کښې ميشته وه نو د ډبرو نومونه د اقسامو او اوزانو په اختلاف خورا ډېر دي، لکه : ډبره، گټه، تيږه، پربنه، غرگى، کانى، شگه، سنگړ، لپانکى، شاخه او نور ...



په دغه ډول د طبيعي او مادي شيانو لپاره ډېر او مترادف نومونه لري لکه : غر، شاگى، پوزه، غونډى، توره مگر د معنوياتو او عواطفو او احساساتو لپاره ډېر کلمات نسته، ځکه چې دوى يو مادي سپېڅلى ژوند درلود، د سرور اولهو و لعب او رخاء او نعمتو نومونه لږ دي، ځکه چې دا شيان په پښتنو کښې لږ وه، مگر د نول، وير، ناورين، بخول نومونه متعدد لري. د هجومي اقداماتو نومونه هم لکه : يرغل، تالا، غدى، زغل، چور چپاو ډېر دي.

له اخلاقي پلوه هم ډير بد اخلاق په پښتنو کښې نه وو، نو ځکه د هغو نومونه لکه : دله، ديوث، قلتبان، زن بمزد په پښتو کښې نه لرو. کږدى هر ديرک بېل بېل نوم لري، ځکه چې په کږدى کښې د پښتنو روزمره ژوند وُ، هغه کلمات چې قوت او قدرت پکښې پروت وي سته لکه : غښتلى، پياوړى، گړندى، زغرد، کروړ، کلک، اما د ضعيف لپاره موضوع کلمات لږ دي، ولې چې پښتانه ټوله غښتلي توريالي وو.

د ځينو موجودو طبيعي مناظرو لپاره ښه ښه نومونه وو، ځکه چې د قدرت د لاس ښکلي شيان د دوى تر سترگو لاندي وه، لکه : رڼا، روښنائى، وړانگه، پلوشه، رېنه چې د ضياء د مختلف مظاهر دي.

د بارانو لپاره خو نومونه سته، لکه : پسته وور، هښمه، رسه، شيگره، شبه، پونه، ورينگى او نور.

په مملکت کښې لوړي ژوري ډيري وې، نو دې دوو حالتو ته ډېر الفاظ سته لکه لوړ، بر، پورته، هسک، پاس، اوچت، جگ يا بالعکس : کښته، کوز، شوه، ځوړ، ځوړ، لاندي.

د پښتو د لغاتو او کلماتو مطالعه دا ښکاره کوي، چې پښتانه عقلاً او فکراً حقيقيون Realists وو، يعني د خيالي او وهمي شيانو خواته ئې ميل خورا لږ وو، د دوى ابيات هم ساده او سپېڅلى طبيعي وو، خياليت Idealism لږ پکښې ښکاري.

مثلاً : د پښتو ژبې تذکير او تاءنيث چې پر افعالو او ضمايرو او کلماتو باندې په شدت جاري دي، دا راښيي چې د پښتنو عقليت هر شي ته په داسي سترګه ګوري چې هغه نظر ورته ښايي، او دغه خاصيت ئې په ادبي ژبه کښي هم خورا ښکاره دئ، لکه :

په فارسي ادب کښي شاه، شاه خوبان د معشوق لپاره استعمال سوي وو، او دا ځکه چې شاعر او عاشق به ټول اقتدار د شاهانو په ډول د معشوق په لاس کښي ګانه نو ئې خپل معشوق شاه باله، سنايي غزنوی وايي :

نه ازين جا ، نه از آنجا ، دل من برد مهی
زين گهرخنده نگاری و شکر بوسه شهی

ځکه چې په فارسي ژبه کښي د مذکر او موٌنث فرق نه وُ، نو دغه شاه طبعاً مذکر وګانه سو، او د شاعر د عشق طرف هم پسر او کافر بچه و ګرزېده :

هر زمانی با سنايی در خرابات ای پسر !
صد لباسات عجب دانی زهی کافر بچه

دا د عشقبازۍ يو غير طبيعي جريان وُ، چې د معشوقې پر ځای معشوق او د محبوبې پر ځای محبوب او ګل پسر او کافر بچه ودرېد، او داسي ښکاره سوه چې د هر شاعر ممدوح او معشوق يوازې مذکر جنس دئ، مګر دا خبره ډېره ممکنه وه چې کوم شاعر به په طبيعي سوق يو شعر د کومي پېغلي په مينه کښي هم ويلي وي.

خو په ژبه کښي د جنس فرق نه وُ، نو ځکه شاهد، شاه، بت ، صنم، سروسهی، آفت، عقل وجان، او په سوو نور د معشوقانو نومونه ټول پر هغه ګل پسر او جنس مذکر اطلاق سول.

اما پښتانه د ادب او عشق او تعبير پر ميدان ريليزم ته مايل وو، دوی هغه د فارسي او عربي تعابير واخيستل، مګر هغه ئې ټوله د خپلې ژبې پر طبيعت برابر موٌنث کړل، او د دوی اجتماعي نفس



دلته په ادب کښي يوه ښکاره اغېزه وکړل. مثلاً : لکه په فارسي ادب کښي چې "شاه" د مذکر معشوق صفت وُ، دغسي "محبوب" هم استعمال سو، بيدل وايي :

بيد ماغی مژده پيغام محبوبم بس است
قاصد آواز دريدنهای مکتوبم بس است

کله چې محبوب په ادبي ژبه کښي استعمال سي، مطلب ئې حتماً نارينه دئ، ځکه چې يو بل شاعر غوښته چې له خپلې ښځې معشوقې څخه شکوه وکړي نو ده په دې بيت کښي د محبوب پر ځای محبوبه ياده کړه :

محبوبه چو بی وفا بر آمد
شرمندهٔ انتخاب خويشم

د پښتو په ادب کښي هم شاه، محبوب استعمال سول، مګر د پښتنو اجتماعی مزاج دغه کلمات په مذکر ډول نه سوای منلای، او حتماً ئې د پښتو ژبې احکام پر جاري کړل، له شاه څخه ئې موٌنث شها، شهۍ، شهو جوړه کړه، او له محبوب څخه ئې محبوبا او دواړي کلمې په پښتو ادب کښي داسي ډېري استعمال سوې چې اوس ئې هيڅوک پردۍ نه بولي، احمد شاه بابا وايي :

په خوا راغله محـــــــبوبا
عجب ښکارکا دلـــــــريا
چې ئې سر په مينه کښ
هغو يووړه محــــ

د شهۍ استعمال هم ډېر وُ،
د شهۍ
په سپين
له ژبي او ادبه څخه د پښتنو
څرګندېږي. مثلاً : زهره هغه ستورۍ دي

ځنې پښتانه ئې "ميلمه سترګه" بولي. دا ځکه چې دوی به مانبام ضرور ميلمه ته منتظر وه، او يوازې به ئې ډوډۍ نه خوړه. نو دا د مانبام ستوری دوی "ميلمه سترګه" وبلله، يعنی هغه سترګه چې دا راوخيژي نو ميلمه هم راځي. په دې ډول که د پښتنو لغتونه او کلمات او ادب له روحی پلوه تحليل سي نو د پښتنو اجتماعی روحيات ښه څرګندوي. پخوانو پښتنو خو د حقيقت او ريليزم خوا درلوده دوی خيالي نومونه لږ اينبوول، يعني هغه شيان چې ددوی په حيات کښي داخل وه، نومونه ئې په خپله ژبه ورته درلوده. مګر د پښتو صرف او نحو او فقه اللغه دا ښکاره کوي، چې د دوی د عقليت دايره هم بيخي تنګه نه وه، ځکه چې صرفی مشتقات او مواد دومره ډير دي چې پر اکثرو انساني روحی حالاتو باندي ښه دلالت کوي، او د دوی عقلي ارتوالی څرګندوي.

مثلاً په فارسي کښي خنديدن د يوه روحی کيفيت د ښکاره کولو لپاره سته، چي نور اقسام ئې په لب خند، شکر خند، زهر خند، سره تعبير کيږي، مګر د پښتو خندا، خندل او مساء، مسېدل فرق لري، لومړی حال عام او دوهم خاص دئ، چي معنا ئې تبسم او لبخند دئ. علاوه پر دې هښېدل، شنېدل، کټېدل هم د خندا مختلف انواع او خاص موضع کلمات دي چي په ترکيب سره نه دي جوړ سوي. په هښېدل کښي لږ خه بيباکي او په شنېدل کښي مستي او په کټېدل کښي د خندا نهائی حال ښوول کيږي، چي په عربي ئې قهقهه بولي.

الفرد فويه Foulllee (۱۸۳۸ _ ۱۹۱۲ م) فرانسوی د روحياتو محقق ليکي چي جرمنيان د احتياج پر وخت ضروري کلمات جوړوي، کانټ او هيکل ځانته د ضرورت له پلوه ځني کلمات جوړ کړي دي (۸)، عربی ژبه هم له دې خوا ارته سوې ده، نولدکه Noldke المانی مستشرق وايي چي د عربو شاعرانو ډېر لغات پخپلو



اشعاور کښي په کوم تقريب په ځينو معناوو راوړي وو، وروسته لغت ټولوونکو خلکو پر دغو کلماتو د موضوعو الفاظو ګمان وکړ، او په خپلو کتابو کښې درج کړل، مثلاً : هيصم او هراس چي د زمري په معنا ئې راوړي دي حال دا چي دغه کلمې بيلي معناوي هم لري. (۹)

دا خاصيت تر يوې اندازې په پښتو ژبي او ادب کښي هم ليدل کيږي، چي له اجتماعي او جغرافی محيط څخه پيدا سوي دي، او اوس د پښتنو د روحياتو په پلټنه کښي ښه کار ځني اخيستل کيږي.

او لکه سيد جمال الدين افغاني چي وايي : "د پښتنو صوري هيکل او د تنديو کوتونه، د دوی جسماني قوا او حماسی شوکت ښکاره کوي، دغسی د پښتو ژبی آهنګ او رغونه او کلمات او د ژبی د ورندوالی او صلابت دا راښئي چي ددې ملت مزاج او روحيات خورا کلک او درانه او غښتلي دي. (۱۰)

مثلاً په پښتو ادب کښي پښتون په خاصه معنا استعماليږي، چي د انساني صفاتو جامع سړي ته وايي، که ووېل سي چي پلانی پښتون سړی دئ، دلته خو يو دا ښکاري چي دغه سړی پښتون ملت ته منسوب دئ، خو په دې جمله کښي دا معانی هم پراته دي چي هغه سړی رحم لري، عاطفه لري، دلاور دئ، غيور دئ، غريب پالونکی دئ، او نور او نور ... په آخر کښي ددغي کلمې څخه يوه ډېره جامعه او د ډيرو معناوُ ډکه بله کلمه زيږي، يعني "پښتونواله" او دا هم د پښتنو په اخلاقي قاموس کښي د ټولو انساني ښو صفاتو جامعه کلمه ده. نو د پښتو ژبي آهنګ او فقه الصوت او ادبي ساختمان او وينايي جوړښت ددې ژبي د ويونکو روحيات او نفسي جذبات او اخلاق په ښه ډول څرګندولای سي.

**شعر :**

د هر ملت اشعار ددوی عقلي ژوندون ښه ښکاره کوي، اخلاق، دودونه، ديانت، عقليت او نور روحي خصايص ئې ښئي، په شعر

کښي د ملتونو اجتماعی نفس او روحي ساختمان او فکري بنيه داسي ښکاري لکه په هنداره کښي چي هر څه ښکاريږي.

د پښتو اشعار خو دوه ډوله دي : يو هغه شعرونه او بدلي دي چي مور ئې لغړ او سپېڅلي ملي مال بولو. او بل هغه شعرونه دي چي پښتنو شاعرانو د عربي يا فارسي ژبو شاعرانو په ډول ويلي دي، او ددغو ژبو ادبي او عروضي او قافيوی او فکري اغېزې لري. هغه اشعار چي د وزن او قافيې او نورو خصوصياتو له رويه بشپړ پښتو دي، هغه ټوله ددې قوم د عقليت او تفکر نتيجه ده، مگر هغه اشعار چي په عروضي ډول دي او د نورو ژبو له اشعارو سره سم ويلي سوي، او تقليد سوي دي، په داسي شعرونو کښي هم د پښتونوالي عقليت اغېزه کړې، او تر خپل اولسي اثر ئې لاندي کړي دي.

د شبلي نعماني په قول : عربي شاعر تل د نفس عزت او خپل غرور ساتي، مين که څه هم خپلي محبوبا ته اړ وي او وصال ئې غواړي، مگر دی د گدا په څېر نه دئ، البته جانباز دئ، مگر غلام نه دئ، د ميني مصيبت ته تيار دئ، مگر ذليل نه دئ، مثلاً يو عربی شاعر خپلي ميني ته داسي خطاب کوي :

فلا تحسبی انی تخشت بعد کم
و لا اننی بالمشی فی القید احزق

"يعني دا گمان مه کوه چي زه به تا پسي خاشع سم، او نه به په بند سره له يونه پاته سم". (۱۱)

عربی شاعري داسي نظاير ډېر لري، چي په لاندي بيت کښي هم شاعر د قوم په مړانه او دلاوری فخر کوي، او هغه د خپلي معشوقې له خولي داسي ښئي :

اذا اسود جنح اللیل فلتان ولتکن
خطاک حفافاً فان حراسنا اسد (۱۲)

(عمر ابن ابی ربیعه)



يعني : "مانبام چي د شپې وزر تور سي نو ته راسه، مگر پلونه ورو ورو ږده چي زموږ ساتنوال زمری دئ." په شرقي شاعري کښي ځني داسي مثالونه هم سته چي شاعر ډېر ځان سپکوي او خپل وقار او شخصيت د معشوق په مخ کښي له لاسه باسي، لکه :

سحر آمدم بکويت بشکار رفته بودي
تو که سگ نبرده بودي، بچه کار رفته بودي

مگر د پښتو ادب که کله په تقليدي ډول داسي نمونې ولري، پخپل اصلي رنگ کښي يو ممتاز او موثر شکل لري، او پښتون شاعر ځان دوني نه سپکوي، او خپل غرور او مناعت نه بايلي، مثلاً خوشحال خان خو د عشق پر ميدان قرباني ته حاضر دئ، مگر د خپل نفس لوړتيا، او عظمت هم په عاشقانه ژبه محبوبا ته داسي ښئي:

مرگ لره ئې واړه د ډهلي لښکر راغلئ
ته لا د خوشحال په مرگ ځان روغ نه گڼې ننگ کړې

سربازي او توريالي توب هم په عشق کښي دده سره ملگري دي او د رقيب مخي ته توره په لاس ورځي :

په درست جهان به نه وي يو دما غوندي رسوا بل
ورځم توره وکښلې چي مين واروم په تا بل

اوس نو له دغه بيته سره د يوه بل شاعر دا مضمون پرتله کئ چي وايي :

فلک بحال من خسته دل جفاها کرد
که سگ بجان گدايان بی عصا نکند

يو بل شاعر په عشق کښي دوني پټ پټانه کوي چي قط معشوق نوم نه اخلي او د نورو خبرو په ترڅ کښي د خپل نا يار پوښتنه هم کوي :

بهر مجلس که جا سازم حديث نيکوان پرس
کـه حرف آن مه نامهربان را در ميان

اوس نو ددغه روحي حالت په مقابل کښي د خوشحال خان دغه عشقي صراحت ته وګورئ :

زه خوشال کمزورئ نه يم چي به ډار کړم
په ښکاره ناري وهم چي خوله ئې راکړه

د پښتو شاعر پر ځان ويسا Self Help او په پښتونواله کښي ددغه مزيت اندازه له دې بيته ښه ښکاري چي خوشحال ويلي دئ :

د مزريو مړنتوب په لښــــکر نه وي
مټ ئې هر کله يوازي پر خپل ځان وي

**متلونه** :

په پښتو کښي متل عين هغه شي ته وايي، چي په عربي ئې مثل بولي، ښايي چي متل له عربي څخه مفغن سوئ وي،ځکه چي کله په تفغين کښي (ث) په (ت) بدليږي لکه : ميراث چي ميرات سو. د عربي لغت پوهان وايي چي مثل يعني مثل او نظير او دا کلمه له عربي مثل څخه جوړه سوې، او پر ټولو حکمتو او لنډو قصو او اساطيرو اطلاق سوه. (۱۳)

د پښتو ادب يو مهم ټوک دغه متلونه دي، چي په لنډو ويناؤ کښي حکمتونه او د ګټي خبري ځای سوي وي په متلو کښي د ملتو د روحياتو خورا ښې نکتې پرتې وي، او ځني پوهان وايي چي تر شعر لا متلونه د ملتو پر عقليت ښه دلالت کوي، ولي چي اشعار د داسي خلکو له کومو راوزي چي فکر او ذهن او عقليت ئې تر عوامو لوړ وي، اما متلونه د عوامو له تفکره حکايت کوي، او د متلو الفاظ لکه اشعار مصنوعي او پالش سوي نه وي، او د عوامو په ژبه وي، نو متلونه د وګړو ږغ ګڼلی سی، او پر روحياتو ئې دلالت تر شعر ټينګ او د ويسا وړ وي، متلونه د اجتماعي ژوندون او د دوی د عقلي هويت ښکاره کوونکي دي، په مختلفو اوضاعو او کيفياتو کښي د تجربو او ازمينتو نتيجې دي چي په لنډو کلماتو کښي ځای سوي



دي. مثلاً د پښتو متلونه دي : "پردی ښې نيمه خوا دي" يا "پردی کټ تر نيمو شپو دئ" له دغو څخه موږ پوهيږو چي د پښتو پر خپل ځان او خپلو ملي ښېګڼو دوني ويسا وه چي هر پردی شی ئې نيمه خوا ګاڼه، او پر پردو باندي ئې اتکاء نه کوله، او دا يوه مستقله او ټکره "اولسي روحيه" ده چي يو قوم پر ځان متکی وي، او پخپلو ښېګڼو وياړي هغه قوم نه مري.

د پښتو بل متل دئ : "جنګ په وسله کيږي او ننګ په غله" له دي متله لاندي خبري استخراج کېدلای سي :

د پښتنو اجتماعي ژوند پر دوه رکنه ولاړ ؤ : اول له ځانه څخه دفاع، دوهم يو له بله سره په روغه ژوند کول، چي په دې متل کښي اول ته جنګ او دوهم ته ننګ ويل سوئ دئ. ددوی عسکري احساسات په دفاعي او خصمانه حرکاتو کښي، او د ننګ جذبات په خپلوي او روغه کښي د ژوندانه مدار ؤ، وسله په دوي کښي مهمه او غله هم د اړتيا شی و.

دې اجتماعي اړتيا ددوی زراعت او کرني ته پاخول. نو ئې په اخلاقو کښي زراعتي روحيه او د کرني قدر کول داخل سول، دا روحيه که څه هم د زړو آريائيانو ده او اوستا ددوی زراعتي حالت ښه څرګندوي (۱۴). مګر په پښتونوالي کښي خو دغه زوړ روح بل راز سو، او د پښتنو د روحياتو سره سم د ننګ دپاره يوه وسيله سوه او له دغه څخه موږ ته څرګنديږي چي د پښتنو د اجتماعي ژوندانه اساس ننګ ؤ، نو د ننګ دپاره غله او کښت ضرور ؤ، او دې کيفيت د پښتنونخوا وګړي اکثر کرونکي او زراعت پيشه کړل.

"پر پچه وخوت کشمير ئې وليد"

دا بل متل دئ او دا راښکاره کوي، چي پښتنو په عين ملي غرور او د ځان په ويسا کښي خپل حد نه ورکاوه يعني په لږ څه له هوله نه وتل، او نې بېځايه تکبر کاوه، د لويو کارو لپاره ئې لوی

وسایل پلټل او یوه جزوي وسیله ئې د مهماتو لپاره کافي نه ګڼله. "د ډیرو لرګی د یوه غوزی"

د اجتماعي تعاون روح څرګندوي، او د کولکتیویسم اساس په اجتماعي کارو کښې ښئي.

کله کله په پښتو متلو کښې د فلسفې ګراني خبري هم راغلي، او دا ښئي چې د پښتنو عقلیت سوچ بدوي او غرنی نه وُ، د دوی په فکر کښې ژور توب هم موجود وُ، مګر طبیعي رنګ ئې درلود، د صنعی او موضوعي پوهنو صیقل نه و وهلی.

مثلاً : دا فکر چې جهان زموږ د اعمالو د نتیجو د انعکاس ځای دئ، او هر سړي ته د خپل عمل او خپلو چارو جزا او مکافات رسیږي، په انساني اجتماع کښې دا فکر ډېر زوړ دئ، مولانا جلال الدین بلخي وایي :

این جهان کوهست و فعل ما صدا
این صداها باز گـــردد سوی ما

پښتنو دغه اجتماعي قانون په یوه متل کښې لنډ ښوولی دئ چې:

" مه کوه په ما ـ و به سي په تا"

په دې ډول د پښتو هر متل یوه حکمي او ګټه وره وجیزه ده چې ددوی روحیات او اجتماعي ژوند ښه ځیني ښکاره کیږي.

**قصې :**

لکه شعر او متلونه، د پښتنو قصي او روایات هم د دوي د اجتماعي نفس ښکارندويي دي. د روغي ژوند ـ د جنګ دودونه ـ د عشق او میني حالات او روحی جذبات، ددوی ذهنیت او افکار ـ د ملګری او رفاقت لاري او حالونه ـ شاعرانه حیات ـ شرافت ـ د ننګي سره علاقه ـ توریالی توب ـ دفاعي او هجومي احساسات ـ د ښځو شریفانه اخلاق ـ لنډې دا چې پښتني قصې ددې ملت روحیه



په ښه ډول څرګندوي. د پښتو قصې او نقلونه د ځینو پهلوانانو Heroes پرسیرت او کردار مشتمل دي، او شاعرانه سپېڅلې خوا هم لري، چې په دواړو کښې د دوي د اجتماعي نفس ښه ښکاري، او ددغو قصو ناري او بدلي ډیري داسي نکتې لري چې د ملي روحیاتو په پلټنه کښې خورا مهمي دي. دکتور ګوستاولوبون وايي : "قصې ډېر ځله تر تاریخ صحیحي وي، او د ملت حقیقي مشاعر څرګندوي. قصې هغه حوادث دي، چې د حکایت کوونکي عاقله په متاثره سوې وي." (۱۵)

د پښتو ادب په دغه خوندوره برخه کښې یوه قصه د پتې خان برېخ او رابیا ده، چې د بست د زاړه ښار اوسېدونکي وه، دا دواړه مینان په ټولو واقعو کښې سره ملګري دي، پښتني مېرمني په جنګو کښې پخپله شاملیږي، او توریالی دي، هغه وخت چې له شپېتو تنو ملګرو څخه یوازې پتې خان او دده مینه رابیا پاتیږي، نو سهار رابیا پتې خان ته په دې ناره سره د جنګ تشویق کوي او وایي :

"سر د سره پالنګه هسک که پتې خانه !
رابیا ګلي پنده ورته کـــــــړه سپریږي"

چې پتې خان لا له ځایه سر نه وُ راپورته کړئ، رابیا د جنګ لپاره پر آس سپره وه، او د غلیم مقابلې ته تله، نو ئې پر خپل مین داسي ناره وکړه :

"سر د سره پلنګه هسک کړه پتې خانه
رابیا ګلي پنده ورته کـــړه سپره سوه"

پتې خان په داسي حماسي ږغ ځواب ورکئ :

"که تتی د ګواریو سانـــــــګي تتی
یا مي خور یې ! یا مي مـــــــور یې،
څو ئې نه کړم، پر دا سپینه سینه پڅې"

په پای کښې پتې خان یوازي د جنګ پر میدان پاتیږي، نو داسي وایي :

"که بوټي هندوستان مي بوټي بوټي
په سپيتانه کي خلاص نه ســـــوو
اوس راواړوه د سپينو چرو مـــوټي"

په دغو نارو کښي د خلکو جنګي احساسات او د روح کلکوالی، او ددوی د ښځو روحي او معنوي غښتلوالی او نه ماتېدونکئ اجتماعي نفس ښکاري، چي د پښتني اجتماعي مزاج او فکري جوړښت هم تر پښتون کښته او ضعيف نه وُ.

عفت او ناموس داري او پاک ژوند له پښتني اخلاقو څخه دي، نر او ښځه دواړه پاکه لمن لري، او عشق ئې هم په عفت کښي وه، د (ښادي او بيبو) نقل زموږ د وګړو په قصو کښي شهرت لري، عاشقانه احساسات چي په خورا تيز او تر هر څه اثر ناک او اغيز لرونکي دي هم د پښتونوالي روح نه سي مغلوبولای، ښادي خو پر بيبو مين وُ، او بيبو هم دده په مينه کښي ليونۍ وه، مګر ددوی عشق هم د عفت په سيوري کښي وُ، او بيبو تر واده د مخه معشوقه ښکاره کول لوی پېغور او ناوړه ګاڼه، ځکه نو چي يو وخت ښادي له بيبو څخه خوله غواړي، بيبو دا خواست نه مني او ناره پر کوي :

چي دا ښادي هلک وُ، ما ئې تل اودې څرې
اوس چي دا ښادي را لوی سو نو له ما غواړي خولګۍ

ښادي د خپل خواهش په بېځايه توب پوهېږي، او سخت پښېمانه کېږي، او له ډېره خجالته او عاشقانه غيرته له وطنه ورکېږي، دی غواړي چي خان د پېغوره وباسي نو کلي کور پرېږدي او ځي.

ښادي ولاړ، ورک سو، کهول ئې پرېښو، بيبو خو دده په مينه کښي سوځېدله، د فراق او بېلتانه په لمبو کښي مکوټ سوې وه، يو ورځ چي د بکوا پر دښت کاروان تيرېږي، نو د بيبو خپل مين ښادي ور په يادېږي، وګورئ ! په څه ارمان ناره پر کوي :



کاروانونه د بکوا پر دښت تيرېږي
کاروانونه د بکوا پر دښت تيرېږي
ښادي جان ورسره نسته
په دا نور کاروان مي مينه نه ماتيږي
زما آرمان، ښادي مي بايلو"

وګورئ ! يوه مينه چي د خپل مين سره دونه مينه لري، او بېله ده ئې په ځا مينه نه ماتيږي بيا هم دده بېځايه خواهش نه سي منلای، ځکه چي د پښتونوالي ځلي د دواړو په نظر کښي تر عشق لا هم درانه او مقدس دي. پښتو داسي ډېري قصې لري لکه : آدم خان او درخانۍ ـ مؤمن خان او شيرينو ـ جلات خان او شمائله ـ موسی خان او ګلمکۍ ـ توردلی او شاهو او نوري چي ټولي دغه قصې د خلکو د روحياتو او اجتماعي نفسياتو رڼي هنداري دي. (١٦)

## لمن ليکونه


۱. د بلاکمار Blackmar عناصر اجتماع ص ۵۲
۲. د ابن خلدون مقدمه، ۲۶ مخ
۳. د گوستاولوبون سر تطور الامم، ۱۴
۴. روح الاجتماع ۱۹
۵. سر تطور الامم ، ۱۳
۶. د هنر بکل د تمدن تاريخ ۲ _ ۲۰
۷. د گوستاولوبون کلمات _۲۶
۸. د اروپا د اولسونو روحيات _ ۷۱
۹. د احمد امين فجر الاسلام _ ۶۷
۱۰. تتمة البيان _ څلرم فصل
۱۱. شعر العجم _ ج۵
۱۲. مغنی اللبيب
۱۳. فجر الاسلام _ ۷۴
۱۴. د مشرقي آريائيان تمدن _ ۲۲۸ تر ۲۳۸.
۱۵. د گوستاولوبون کلمات، ۷۱.
۱۶. وږمه مجله، ۱۳۴۴ ش کال، ۱، ۲ او دريمه گڼه، ۱ _ ۱۸ مخونه.